# د Edulog Parent Portal د GPS بس موقعیتونو سره

د حوالي ګام په ګام لارښود

**1 ګام** **اپلیکیشن نصب کړئ**

د Edulog Parent Portal په Google Play Store یا iOS App Store کې ومومئ او نصب یې کړئ. د Edulog شین او آبي رنګه (teal) آیکون ولټوئ. تاسو کولی شئ په 2 ګام کې چمتو شوی QR کوډ هم وکاروئ.



## 2 ګام نوی حساب جوړ کړئ (Sign up)

د Edulog Parent Portal اپلیکیشن نصبولو لپاره خپل سمارټ فون سره QR کوډ سکین کړئ. د اپلیکیشن له نصبیدو وروسته، د ننوتلو یا لاګین سکرین کې "Sign Up" کلیک کړئ. که ستاسو د ښوونځي ناحیه تاسو ته ووایي چې د خپلې ناحیې چمتو کونکي له لارې حساب جوړ کړئ نو "Tap Here" غوره کړئ.



## 3 گام                    نوم لیکنه

خپل لومړی او وروستی نوم ولیکئ. خپل د بریښنالیک ادرس دننه کړئ. یو پټنوم (پاسورډ) ولیکئ او تایید یې کړئ. بیا په "Sign Up" کلیک وکړئ.



## 4 ګام　　خبرتیاوې فعاله کړئ

خبرتیاو ته اجازه ورکول به د اپلیکیشن څخه د اړیکو ترلاسه کولو لپاره ګټور وي. دا تل ستاسو د تلیفون تنظیماتو کې تنظیمیدای شي.



### 5 ګام تصويبول

تاسو به يو کتبي پيغام ترلاسه کړئ: نوم ليکنه بريالی شوه! د خپل بريښناليک تاييدولو لپاره مهرباني وکړئ خپل بريښناليک د no-reply@edulog.com څخه درليږل شوي بريښناليک لپاره وګورئ.

### 6 ګام ننوځئ

خپل د بريښناليک ادرس دننه کړئ. خپل پټنوم (پاسورډ) وليکئ. "Sign In" غوره کړئ.



## 7 ګام زده کوونکي

د زده کونکو ترانسپورت به تر دې دمه نه لیست کیږي. د اپلیکیشن په لاندینۍ برخه کې "د زده کونکو لیست" ("Student List") ته لاړ شئ.



## 8 ګام زده کونکی اضافه کړئ

د خپل زده کونکي معلوماتو ته د لاسرسي غوښتنه کولو لپاره په زده کونکی اضافه کړئ (ADD STUDENT) کلیک وکړئ.



### 9 ګام          ښوونځي وټاکئ

د خپل زده کوونکي د ښوونځي نوم لیکل پیل کړئ یا په نقشه کې ښوونځی وموميئ (FIND SCHOOL ON MAP) تڼۍ په کارولو سره ښوونځی ومومئ.



### 10 ګام    ښوونځي تایید کړئ

بیا دا تایید کړئ چې تاسو د خپل ښوونځي ناحیې لپاره سم ښوونځی انتخاب کړی دی.



## گام 11 د زده کونکي جزییات ولیکئ

غوښتل شوي معلومات دننه کړئ، چې په کې بنايي د زده کونکي نوم، د زده کونکي ID، او د زیږون نېټه شامله وي. ځيني ښوونځي د زده کونکي د لاسرسي د غوښتنې (SAR) ځانګړی کوډ کاروي. بیا "بشپړ شو" ("Done") کېکاږئ






## 12 ګام تاییدول

زده کونکی به د تایید شوي په توګه وښودل شي. که د انتظار حالت وښايي، نو ستاسو ورکړل شویو معلوماتو سره سمون ندی خوړلی. د بیا ځلې هڅه کولو لپاره، د زده کونکي پر نوم ګوته کیږدئ او کیڼ لور ته یې کش کړئ ترڅو دا غوښتنه حذف شي. د زده کونکي جزییاتو لیدلو لپاره د زده کونکي پر نوم کلیک وکړئ.



## 13 ګام د زده کونکي جزییات

کله چې تاسو د زده کونکو لیست څخه نوم غوره کړئ، د زده کونکي مفصل معلومات به راڅرګند شي. د بس د معلوماتو لیدلو لپاره، په "زما بس چیرته دی" ("Where's My Bus") کلیک وکړئ.



## 14 ګام زما بس چیرته دی؟

ښوونځی، راتلونکی تمځای، او بس به د سفر معلوماتو سره لاندې په نقشه کې وښودل شي. شاته ته بیرته تلو لپاره، د شاته تلو غشی غوره کړئ. د وخت ټاپه ښیي چې دې بس وروستی ځل کله د GPS موقعیت راپور کړی و. ناحیه ښایي دا محدود کړي چې د بس موقعیت چیرې او کله ښودل کیږي.



## 15 ګام د زده کونکي جزییات —– د ټرانسپورټ مهالویش

د بس د ځای موقعیت او پلان شویو وختونو لیدلو لپاره، "د ټرانسپورټ مهالویش" غوره کړئ.



## 16 ګام د ترانسپورت مهالویش

کله چې د ترانسپورت مهالویش غوره کوئ، ښوونځي ته وړولو لپاره د پورته کولو وخت او له ښوونځي څخه کور ته د وړولو وخت ښودل کیږي. د نورو جزییاتو لیدلو لپاره له ټایلونو څخه یو غوره کړئ.



## 17 ګام — د خبرتیا ترتیبات ـــ ښوونځي ته او له ښوونځي څخه

تاسو کولی شئ هغه وخت وټاکئ چې تاسو کله غواړئ د بس د رسیدو خبرتیاوې ترلاسه کړئ. ډیری والدین د ښوونځي ته د تلو سفر لپاره "پک اپ" ("Pick-Up") او له ښوونځي څخه سفر لپاره "ډراپ آف" ("Drop-Off") غوره کوي. ځینې والدین هغه وخت کې د خبرتیاو ترلاسه کول غوره کوي کله چې بس ښوونځي ته د تلو سفر لپاره ښوونځي ته نږدې کیږي. یادابښت کړئ: د ښوونځي څخه کور ته د سفر لپاره په ښوونځي کې د "پک اپ" ("Pick-Up") خبرتیا ښايي ستاسو د ښوونځي ناحیې لپاره شتون ونلري.






### 18a ګام الرټ یا د خبرتیا زونونه (ساحې) ــــ عمومي کتنه

د خبرتیا ترتیباتو بدلولو لپاره، د زنګ نښه غوره کړئ. دا هغه ځای دی چې تاسو کولی شئ د خپلي خبرتیا د زون وخت، واټن او مرکز تنظیم کړئ.



## گام 18b د خبرتیا زونونه — د خبرتیا زون ایډیټ کړئ

د خبرتیا د زون ایډیټ سکرین په کارولو سره د خپلې خبرتیا د زون وخت، واټن او مرکز تنظیم کړئ.



### 18c ګام        د خبرتیا زونونه ـــ مرکز بدل کړئ

تاسو کولی شئ په سکرین او بیا د "خوندي کړئ" ("Save") په کلیک کولو سره د خپلې دایرې/حلقې د خبرتیا د زون مرکز بدل کړئ.



## 18d ګام — د خبرتیا زونونه — شعاع تنظیم کړئ

کله چې یوه دایره غوره کوئ، تاسو کولی شئ شعاع یې هم تنظیم کړئ. د خبرتیا زون د دایرې مرکز او شعاع تنظیمولو وروسته، تاسو کولی شئ د خپلې خبرتیا زونونه د 3، 4، 5، یا 6 ټکو سره په پولیګون بدل کړئ.



## 18e ګام د خبرتیا زونونه — پولیګون (کثیرالاضلاعي) شکله

کله چې "پولیګون" غوره کوئ تاسو کولی شئ د 3، 4، 5، یا 6 اړخیزې ساحې څخه یې غوره کړئ. تاسو کولی شئ د انفرادي نقطو (نوډونو) ته په حرکت ورکولو سره د ځینو سیمو شاملولو او د نورو ایستلو لپاره د خبرتیا زون تنظیم کړئ. د نوډ نقطه د یوې یا دوو ثانیو لپاره کېکاږئ، بیا یې مطلوب ځای ته ورسوئ او "خوندي کړئ" غوره کړئ.






## 18f ګام     د خبرتیا زونونه — د خبرتیا وخت تنظیم کړئ

د خپلې خبرتیا د زون دایرې او شعاع تنظیمولو وروسته، د "خبر کړئ په" ("Alert in") په کلیک کولو سره د خبرتیا وخت تنظیم کړئ. خبرتیاوې یوازې د دې وخت د کړکۍ په جریان کې لیږل کیږي.



## 18g ګام    د خبرتیا زونونه —— تایید او خوندي کړئ

د پیل وخت او پای هغه وخت غوره کړئ چې په جریان کې به یې تاسو زون ته د بس د ننوتلو خبرتیاوې ترلاسه کړئ. بیا "بشپړ شو" غوره کړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې د خبرتیا زون خوندي کولو لپاره "خوندي کړئ" ("Save") غوره کړئ.






## 19 ګام ترتیبات

په اصلي مینو کې، په "ترتیباتو" کلیک وکړئ. دلته تاسو کولی شئ خپل پټنوم بدل کړئ، خبرتیاوې تنظیم کړئ، خپله ژبه غوره کړئ، واحدونه غوره کړئ، او تازه معلومات وګورئ.



## 20 ګام          پټنوم بدل کړئ

د خپل پټنوم بدلولو لپاره په ترتیباتو کې د پټنوم بدلول غوره کړئ او "وسپارئ" ("Submit") کلیک کړئ. بیا د support@edulog.com لخوا ستاسو بریښنالیک ته درلیږل شوی بریښنالیک وګورئ.



## 21 ګام　　　خبرتیاوې

د سلایډ تڼۍ په کلیک کولو سره خبرتیاوې فعاله کړئ. دا به تاسو د خپل تلیفون د خبرتیا ترتیباتو ته بوځي.




## 22 ګام　　　د سفر د خبرتیا زونونه

کله چې د سفر د خبرتیا د زون خبرتیاوې غوره کوئ، تاسو کولی شئ د خبرتیا د هر زون شعاع وګورئ. تعدیلولو لپاره ">" غوره کړئ.

## 23 گام ژبه

د خپلې ژبې غوره کولو لپاره په ترتیباتو کې په "ژبه" کلیک وکړئ او "خوندي کړئ" کلیک کړئ.



## 24 ګام واحدونه

کله چې د ترتیباتو سکرین کې "واحدونه" ("Units") غوره کوئ، تاسو کولی شئ میل یا کیلومتر غوره کړئ او بیا "خوندي کړئ" غوره کړئ. اصلي مینو ته د بیرته تلو لپاره، د بیرته لاړ شئ تیر غوره کړئ. بیا "کور" ("Home") غوره کړئ.



## گام 25 کور

د کور په ټېب کې به تاسو د راتلونکي سفر معلومات وګورئ. ګلابي رنګ ښيي چې بس نږدې دی. تاسو به هغه ان بکس کې هم ومومئ چیرې چې ستاسو خبرتیاوې او پیغامونه ذخیره کیږي.



## 26 ګام　　　　کور — ان بکس

ستاسو ان بکس په اپلیکیشن کې ترلاسه شوې خبرتیاوې ساتي. ستاسو د ناحیې لخوا یې د پلي کولو پر اساس، پدې کې د بس رارسیدل، د ټرانسپورټ بدلونونه، او د ټرانسپورټ څانګې لخوا لیږل شوي پیغامونه شامل دي.

